مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیلانی ۲۰۲۰/۰۸/۲۸

# غرېز انځور

ځۀ موده پخوا مې پۀ یوه لیکنه د عکس او انځور پۀ هکله یو ځۀ لیکلي و. دلته غواړم یو ځغلنده نظر پرې واچوم معمولآ زموږ ډېری لوستونکي او لیکونکي انځور او عکس پۀ یوه معنا کاروي، خو پۀ حقیقت کې انځور او عکس دوه بېل توکي دي.

عکس د الکترونیکي چاپېریال کارنده څیز دی، چې د کمرې پۀ واسطه اخستل کېږي او د کاغذ پر مخ ترسیمېدی شي. خو انځور د ذهني، ادبي او لیکني چاپېریال کارنده توکی دی،چې موږ پۀ شعر، هنري او ادبي لیکنو کې د ادبي صنایعو پۀ مرسته او د تخیل پر مټ یې پۀ خپلو لیکنو کې د ابهام، هنریت، تنوع او ښکلا پۀ موخه کارو.

پۀ یوه لیکنه کې د انځورونو جوړونه د لیکوال لۀ تخیل څخه سرچینه اخلي، بیا شاعر یا لیکوال دا تخیل د بلاغي توکو ( تشبېه، استعاره، پارادوکس، سمبول...) پۀ مرسته پخپله لیکنه او شعر کې انځوروي، چې دا کار یې لیکنې ته هنریت او ښکلا وربښي او لۀ ساده لیکنو یې توپیر کېږي.

دا چې هره هنري لیکنه او منظوم کلام د بې شمېره انځورونو درلودونکي وي، همداشان د انځورونو ډولونه هم ډېر او کېداشي بې شمېره وي. ما د د.پ.ل.ازمون « منظوم انځورونه» اثر لوستۀ چې پۀ یوه برخه کې یې د غرېز انځور لۀ سرلیک سره مخ شوم، دی غرېز انځور داسې را پېژني:

«غرېز انځور هغه انځور دی، چې تر غوږه د یو غږ لۀ را رسېدو سره سم په ذهن کې د هغه بڼه انځور شي. فرض کړئ، که موږ د یوه مارغه (طوطي) له غږ سره بلد یو،په سترګو یې نه وینو، کله یې چې غږ اورو، نو ذهن کې مو دهغه بڼه یا شکل انځورېږي او یا کله چې طوطي یا کوم بل مارغه وینو، یافرض کړئ په غړېدلو سترګو همدا طوطي وینو د هغه غږ یا خبرې مو په تصویر کې راځي او یو ذهني تصویر جوړېږي.» ( منظوم انځورونه )

دا سمه خبره ده چې د یو غږ پۀ اورېدو سره سم د انسان پۀ ذهن کې دهغۀ څیز او حیوان بڼه انځورېږي، خو کۀ چېرې د غرېز انځور کلمو او غږونو ته د ژبپوهنې لۀ اړخه ځیر شو، نو دا پۀ حقیقت کې هماغه د صوت یا غږ نوم او کلمې دي چې د انسان پۀ ذهن کې د غرېز انځور بڼه جوړوي .

دا نومونه پۀ خپل ذات کې لۀ اورېدو سره سم د اورېدونکو ذهن کې د هماغۀ څیز انځور جوړوي. لکه؛ ګړېهار، درزهار، شرنګ، شرونګ یا دې ته ورته د وسلو غږونه، لکه : ټک، توک، درم ....، یا د مرغانو غږونه، یا د ځینو الکترونکي څیزونو غږونه لکه: موټر، رېل... یا هم د انسانانو غږونه چې د راډیو لۀ لارې واورېدل شي زموږ ذهن کې غرېز انځورجوړوي.مثلاً: کۀ د داوود خان د دور یو صاحب منصب چې داوود خان یې لۀ نږدې لیدلی وي یا ورسره وېپژني راسره وي، کله چې ددۀ غږ د راډیو لۀ څپو واوري سمدلاسه یې پۀ ذهن کې د داوود خان انځوریزه بڼه جوړېږي، ځکه چې اورېدونکی یې لۀ غږ سره اشنا دی او دغږ پۀ اورېدو سره یې سم څېره ذهن ته راځي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نو همدا کلمي او غړونه دي چي ذهن کي غريز انځورونه رامنځته کوي او د لوستونکي ذهن ته دهماغۀ ځيز جسم او څېره انځوروي. نو ويلی شو چي غريز انځور د معلومو غړونو او کلمو پۀ مرسته د انسان پۀ ذهن کي رامنځته کيږي، د معلوم کلمه مو ځکه ياده کړه، چي هر غږ او کلمه ذهن کي انځور نشي جوړولی.

اوس راځو هغو بېلګو ته چي استاد ازمون د غريز انځور پۀ توګه کارولي دي.

د چيـنـار ځانګي له ښارو سره موسکېږه له ورو
ستړي اروا مي شينكي ډډ ته داستاخوب وړي ده

شاعر پۀ لومړي بيت کي د چنار ځانګه تشخيصوي، هغه دا چي د چنار ځانګو ته داسي انساني ځانګړنه ورکوي چي هغه دي لۀ ښارو سره، چي يو ډول مرغۀ ده و موسيږي. دا کار د چنار پۀ توان او فطرت کي نشته، ځکه دا انساني ځانګړنه ده، نو ځکه تشخيص او پۀ هغه کي حسي تشخيص يې بولو.

استاد وايي: د چنار او ښارو ترمنځ موسېدل د لوستونکي ذهن ته غږيز انځور وړاندي کوي. کۀ چېرې د « دچنار او ښارو تر منځ موسېدلو» ته ځير شو، پۀ حقيقت کي دا د ذهني يا خيالي انځور يوه بېلګه ده، چي ذهن ته پرته لۀ غږيزو کلماتو او غړونو داسي يو څۀ انځوروي چي ځانګړی وجود او بڼه نۀ لري.

بله خبره داده چي د چنار او ښارو تر منځ موسېدل يو شاعرانه ډيالوګ دی، ځکه پۀ حقيقت چنار هلته تشخيص شوی او خبره تر دي حده هنري شوي ده چي د چنار موسېدل شاعرانه ترکيب جوړوي، نو کله چي انځور شوي کلمات شاعرانه او هنري شي موږ ته غږيز انځور پۀ ذهن کي نشي رامنځته کولی.

دغږيزو کلماتو او ترکيبونو يوه ځانګړنه داده چي انځور شوي کلمات شاعرانه کلمات او ترکيبونه نۀ وي، لکه: د اوښکو ماتم، د بلا لاس، د اوښکو امېل... دا کلمي او ترکيبونه خيالي دي، چي حقيقت او مادي وجود نۀ لري او پۀ ذهن کي مشخص انځور نشي جوړولی، نو ځکه لۀ ښارو سره د چنار موسېدل يو شاعرانه ترکيب دی چي پۀ حقيقت کي ليدل کيږي نۀ، مګر موږ يې د تخيل پۀ ځواک جوړو، نو پورته بيت د ذهني يا خيالي انځور بېلګه بللی شو، نۀ د غږيز انځور.

پورته مو ياده کړه چي غږيز انځور د غږيزو کلماتو او غړونو پۀ مرسته جوړيږي، کۀ داسي نۀ وي نو بيا د غږيز انځور لۀ نوم او پېژندني سره پۀ ټکر کي واقع کيږي.

اوس را ځو دويم بيت ته:

دميمني دمرګ اواز شو
په نغرو کي بېګاه اورونه بلېدنه

کۀ چېرې تاسي د استاد سپرني ته هم پام وکړئ هغه پخپله هم پۀ دي اعتراف کوي چي نوموړی لنډۍ يو عيني انځور وړاندي کوي. دا ځکه چي دا پېښه د باجوړ پۀ سيمه کي پۀ واقعي توګه پېښه شوي ده، خو دا بېلګه يې د غږيز انځور لۀ پاره کارولي ده، فکر کوم دی « د مرګ اواز »څخه د غږيز انځور مطلب اخلي. خو واقعيت دادئ چي دا کلمه غږيزه نۀ ده، بلکي واقعي انځور وړاندي کوي.... په پای کي بايد ووايم چي لۀ غږيز انځور څخه موخه داده چي کلمي بايد غږ توليد کړي او غږيز انځور وړاندي کړي، نۀ ذهني.

غواړم دلته د غږيز انځور څو بېلګي تاسو وړاندي کړم:

پۀ ديوال دوه کونترې ناستي
يوه کوکو کړي بله ځان سمبالوينه

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په دې لنډۍ کې د دوو کونترو ناسته پر دیوال، چې یو یې غر کوي او بله یې ځان سمبالوي یو عیني انځور دی، ځکه کونترې په حقیقت کې همداسې کوي. خو هغه قمري یا کونتره چې « کوکو » کوي، دا کوکو کول زموږ ذهن ته یو غږیز انځور وړاندې کوي. موږ ددې کلمې په اورېدو سره ذهن ته هماغه مرغۀ راولو یا د هماغۀ مرغۀ انځوریزه بڼه راوړو چې دا ډول غږونه کوي. چې دې ته غږیز انځور ویل کیږي.

ما ته په څۀ نخرو ساتلې
ته د سهار په ګړنګهار ولاړې مینه

په دې لنډۍ کې د ګړنګهار کلمه پخپله غږیز انځور وړاندې کوي، د مسافر، مېلمه، خاوند یا هم زوم وتل د سخر لۀ کوره، د ملا لۀ اذانونو سره سم، د یو عیني انځور تر څنګ، ګړنګهار زموږ ذهن ته یو غږیز انځور هم وړاندې کوي. کۀ موږ خپلو محاورو ته پام وکړو، نو موږ په خپلو محاورو کې وایو چې سبایې ګړنګهار سره پاسېدم... لۀ ګړنګهار نه یې موخه د سهار په وخت کې د ملایانو، چرګانو او نور حیواناتو غږونه دي چې انسانان پرې را ویښېږي او ګړنګس کوي.... چې دا خپله یو غږیز انځور وړاند کوي.

اشنا دتوت لاندې اوده و
لکه د باز پرې شنېږېدم را ویښ مې کۀ نه

په دې لنډۍ کې « شنېږېدم» غږیز انځور وړاندې کوي.

شرنګ د پانزېب دې عالمونه خبروینه لیلی!!!!!
ورو ورو کښېده قدمونه لیلی!!!
شرنګ شرنګ...

یادونه: لیکنې ته په خپل نقد و نظر ښکلا ور وبښئ.

اخځلیکونه


۱ ــ اریانا دایرة المعارف. ( ۱۳۴۳ ل) ( دریم جلد ) پښتو ټولنه .
۲ ــ ازمون، لال پاچا.( ۱۳۸۹ ل ). منظوم انځورونه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه .
۳ ــ سیلانی، تمهید الله. ( ۱۳۹۵ل ). په پښتو ژبه کې د ادبي فنونو کتابښود. ننګرهار : مومند
۴ ــ شاهین،سلما. ( ۲۰۱۳ ع ). روهي سندرې. پېښور: پښتو علوم اکادمی.
۵ ــ پښتو ګرامر : زیار، مجاور احمد....
۶ ــ موسیقی شعر، حبیب الله کاشفی




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ